# د پښتو ژبې او ادب په پرمختیا کښې د ریاست سوات کردار

# *Role of Swat state in development of Pashto Language and Literature*

Rahim Bahadar⋆ rahimbahadar@gmail.com
Prof. Dr. Rooh Ullah⋆⋆ roohullah@uop.edu.pk

Issn 2304-1463

**Abstract:**

The valley of Swat has the potential to give birth to eminent Pashtoon heroes who remained identical symbols of this soil. Swat is a key point for the visitors, Researchers, Tourist and Invaders; came to this paradise's piece on the earth. They came here for their specific purposes and some of them occupied it due to its rich natural, historical, cultural and geopolitical position. In the year 1917, a ruler i.e Mian Gul Abdul Wadood alias Wali sahib took the charge of this area. A genius, good organizer and having strong foresight carried swat state to its peak. He brought tremendous changes for the wellbeing and welfare of the Swat State. In the reformation and positive changes brought by him, the most important one of them was establishing Pashto as the official language of the State, receiving official prestige Pashto Language flourished in various aspects. This Language and its Literature luxuriantly developed by his extraordinary focus on Pashto. He wrote all his orders/commands and advices in pure Pashto Language having aesthetic sense these orders are in beautiful handwriting. These rulers valued/appreciated; writers/poets and philosophers of the era and honored them with awards/Titles and incentives. This paper will highlights the efforts taken for the sake of Pashto Language and Literature and will provide foundations for the development of Pashto. It will also highlight that what were the consequences that Pashto Language was selected as an official Language of the State and what were the strategies taken for the protection of Pashto Language and Literature. In this context Swat State, Language, Literature, Good Governance, Sovernity, geopolitical position will be analyzed in depth.

Keywords: ***Swat State, Language, Literature, Soverinity, Governance, poets, luxuriantly, extra ordinary, geopolitical.***

⋆ PhD Scholar, Department of Pashto, University of Peshawar
⋆⋆ Professor/Chairman, Department of Pashto, University of Peshawar

## رياست سوات:

د پاکستان په خېبر پښتونخوا صوبه کښې د سوات سيمه يوه داسې جنتي سيمه ده چې د نړۍ ټول خلق ورته ګوته په خلۀ دي. په نړۍ کښې هغه سيمې کومې چې په انسان د جادو په شان اثر کوي په هغې کښې د سوات ګل ورينه ضلع هم ګڼه ده، چې خلق يې ددې اثر نه بچ نۀ دي پاتې شوي. سوات يوائې د ښکلا ځاے نۀ دے ولې د ګڼ شمېر قدرتي سرچينوقوغه ده. دا سيمه که يو اړخ ته د سېل ګرو د سېل، خوشحالۍ، روحاني تسکين او قرار ځاے دے نو بل اړخ ته ځاے په ځاے پراته زاړۀ اثار هم لري چې د لوړو قومونو نخښې نخښانې لکه د ځلنده ستورو په شان د خپل دود دستور برخه جوړوي. دې ادب خېزې زمکې لوئے لوئے اديبان، پوهان، باتوران اوقام پرسته خلق هم زېږولي دي چې د پښتو ژبې او ادب ته يې مشالونه بل کړي دي.

"د خداے ورکړي زمکې له وجې دا سيمه په درېو برخو کښې ويشلے شوې ده. کوز سوات، بر سوات او د کوهستان سوات وئيلے کېږي"[1]

"د نن ورځ سوات په پينځه زره درې سوه اووۀ دېرش (۵۳۷۳) مربع کلوميټره باندې اډانه لري. د دې حدونه څۀ په دې ډول دي: شمال اړخ ته يې چترال جنوب اړخ ته يې د غرونو ضلع بونېرختيځ اړخ ته يې د شانګلې ضلع او لوېديځ اړخ ته يې د دير ضلع او د ملاکنډ علاقې پرتې دي" [2]

"*تاریخ سوات کا زیادہ روشن دور اسی خطے میں قبیلہ یوسفزئی کی امد سے شروع ہوتا ہے جو اندازاً ۱۵۰۰ عیسوی میں کابل سے اس علاقہ میں وارد ہوا*"[3]

ژباړه: د سوات زرين دور دلته د يوسفزو د راتګ نه شروع کېږي چې پنځلس سوه کاله اګاهو د کابل د سيمې نه دلته راغلي دي.

"په کال ۱۹۱۴ء کښې سنډاکۍ بابا، ماسم خان، زرين خان نيک پي خېل، نوشاد خان او نورو مشرانو د پير بابا د اولاد نه يو مشهور شخصيت سيد عبدالجبار شاه د حکمرانۍ د پاره غوره کړو او کبل ددۀ دارلخلافه مقرره شوه"[4]

"په کال ۱۹۱۷ء کښې سيد عبدالجبار شاه لۀ حکومت څخه معزول کړے شو چې د انګرېزانو سازشونو او د خپلوانو دهوکو هغه کار ته نۀ پر ښېودو" [5]

د سیمې په مشرانو کښې میا ګل عبدالودود چې د میا ګل عبدالحنان ځوی او د سید عبدالغفور باباجي نمسی ؤ. په کال ۱۸۸۷ء کښې وزیږیدو. باباجي د خپل دور یو نومورے عالم دین او بزرګ تېر شوے دے. د میانګل عبدالودود کورنۍ د روحاني طاقت، د سیاسي پوهې او د جنګي حکمت عملۍ له کبله ځلنده وه .

"ددې صفتونو په سوب په کال ۱۹۱۷ عیسوي کښې خلقو دے د سوات پاچا وټاکلو او ډېر زر په ۱۹۲۶ء کښې انګریزانو ددوي باچائي اومنله" [6]

کله چې باچا صېب د سوات باچا شو نو په دې سیمه کښې نۀ ښوونځی وې نۀ سړکونه وو او نۀ نور د پرمختګ څۀ سوچ وو. د خانانو او نوابانو یوه دوره په دې سیمه تېره شوې وه. ددې لۀ کبله ددې سیمې باچائي سنبهالول یو ګران کار وو. دوي د دیر او د چترال د نوابانو سره روغې جوړې او لوظ نامې اوکړې او د سوات د پرمختګ په لور یې مخ راوګرځولو.

"ددوي په کارونو کښې لوئے لوئے کارونه څه دا رنګ دي:

- د ټولو نه وړمبے په سوات کښې د سړکونو یو جال خورول.
- قلعه ګانې جوړول.
- د ټېلي فون نظام جوړول.
- امن و امان له قانون سازول.
- د تعلیم په مېدان کښې ګټور ګامونه اخستل لکه، سکولونه او کالجونه پرانستل.
- د علاقې د بچ پاتې کېدو او په ښۀ توګه نظام چلولو له فوځ سازول او هغوي له روزنه ورکول.
- هسپتالونه جوړول.
- د قانون ماتوونکو او نورو ستونزو حل کولو له تحصیلونه جوړول.
- د سیند او د بارانۀ اوبو نه د سړک بچ کولو له بندونه جوړول.
- پولونه جوړول.
- د سړکونو په غاړو د میوو بوټي نالول.
- پښتو سرکاري ژبه ټاکل" [7]

په دې ټولو کارونو کښې د ټولو نه لوړ او مهم کار پښتو ژبه د سرکار ژبه ګرځول وۀ، چې د دې وخت پورې د يو حکومت هم دا خبره په سوچ کښې نۀ وه.

پښتو د باچا صيب د دربار، خط و کتابت او د رياست دفتري ژبه وه. مونږ نن په ډاډه زړۀ ډېر په وياړ دا وئيلے شو چې د سوات رياستي دور د پښتو ژبې د سيالۍ، ښېرازۍ او شتمنۍ دور وۀ.

"پښتو چې په باچا ګرانه وه نو په هر چا ګرانه وه" [8]

د پښتو ژبې د ودې او ترقۍ په حقله ميانګل عبدالودود داسې وائي:

"زۀ چې د سوات حکمران شوم نو بيا څۀ موده پس زۀ په دې نتېجه ورسېدم چې هرې علاقې او هر قام له خپله ژبه خپلول ښه وي. خپلې ژبې او خپل تهذيب ته په سپک نظر کتل د پربوتي غلام ذهن کار دے نو ما د خپل رياست دفتري او عدالتي ژبه پښتو مقرر کړه. سرکاري فارمونه، اسټامونه، رجسټرونه، کتابونه دا هر څه مې پښتو کښې چاپ کړل" [9]

دلته دا خبره هم د فکر وړ ده چې څنګه د يو باچا په ذهن کښې دا خبره راغله چې د سيمې د پرمختګ د پاره يې د خلکو مورنۍ ژبه د سر کار ژبه وګرځوله؟ په سوات کښې پښتو ژبې ته د سرکاري ژبې حېثت ورکولو کښې د چا تحريک وۀ؟

"دا مشوره باچا صيب ته د سوات د دېولئ کلي ذولفقارالملک ورکړې وه چې د باچا صيب نزدې ملګرے او خفيه خبر رسان وو" [10]

"په رياست سوات کښې پښتو ته د سرکاري او دفتري ژبې مقام ورکولو تجويز د سوات والي ته په کال ۱۹۲۶ عيسوي کښې مولانا عبدالقادر هم ورکړے وۀ" [11]

د پښتو د سرکاري ژبې ټاکلو په حقله ميانګل عبدالودود داسې وائي:

"په هغه زمانه کښې د فيرنګي باچاهي وه نو د پښتو خوارې تپوس چا کوو؟ د پښتو څخه د تعليم يافته پښتنو د بې زارۍ وجه هم دا ده چې يو خو پښتو له سرکاري سرپرستۍ محرومه ده او بله دا چې د پښتو کتابونه او لټرېچرپه داسې بد رنګې طريقې سره چاپېږي چې هېڅ زړۀ رانښکون نۀ لري". [12]

"په غرض د اسانۍ د هر افغان
کړه پښتو د فتري ژبه دې سلطان
ددې قام د ترقۍ په دې مطلب
د پښتو ترقي غواړي روز و شب
په دې ملک کښې هم فقط دې حکمران
د پښتو تصنيف تاليف اوکړو فرمان"[13]

پښتو ژبه سرکاري ژبه ټاکل يو ستغ عمل ؤ هغه ځکه چې ددې د پاره مېدان سازول، هغه لارې چارې کول د کومې نه چې به پښتو ژبه مخ په وړاندې ځي ډېر د سوچ فکر او زيار کار ؤ په دغه قدمونو کښې اديبان او شاعران پالل، مشاعرې جوړول،مقابلې کول، د پښتو ژبې املا صحيح کول، ټولې حکم نامې په پښتو ژبه ليکل، د نورو ژبو کتابونه پښتو ژبې ته ژباړل، د کتابت د پاره ښۀ کاغذ په کار راوستل او بيا دغه کتابونه ويړيا خلکو ته ډالۍ کول چې د خلکو د پښتو ژبې او ادب سره دلچسپي او مينه سېوا شي، د پښتو د ليک په ښه خط نويسۍ له وده ورکول، د باچا او رعايا يوه ژبه ټاکل د غټې پايې کار ؤ.

۱. کتابونه ترجمه کول:

باچا صېب پښتو ژبه د رياست سرکاري او دفتري ژبه وګرځوله او د دنيا نه يې د ځان خبر ساتلو د پاره يو مرزا مقرر کړو چې د هغه په ذريعه به يې اخبار لوستو او د دنيا د حالاتو نه يې ځان با خبره ساتلو. باچا صېب په خپله تعليم نۀ ؤ حاصل کړے هغه ليک لوست نه شو کولے خو د هغه شعور ډېر پوخ او د علم سره يې بې کچه مينه وه. په خپل دور کښې يې ډېر مذهبي، علمي او تاريخي کتابونه ترجمه کړي وو.

## الف: انوارِ سهیلي:

دا کتاب د دنیا په مشهور کلاسیکل کتابونو کښي شمار د ے چې په ډېرو ژبو لکه عربی، فارسي،پهلوي، هسپانوي، یوناني، سلواکي، جرمني، ترکي، ملاي، جاوا، لویشئین، سنسکرت،سامي، فارسي،هندي، اردو او پښتو کښې ژباړلے شوے دے. په دې کتاب کښې د حکمرانۍ اصول بیان شوي دي.

"ددې کتاب یوه خوبي دا هم ده چې د انسان په فطرت کښې دا خبره ګډه ده چې هغه د قیصو سره مینه لري هم دغه وجه ده چې دا کتاب د مقبولیت لوړ مقام ته رسېدلے دے" [14]

## ب: فتاوی ودود یه:

د ریاست سوات له اړخه پښتو ژبې ته ژباړلے شوے اهم کتاب دے. ددې کتاب وړمبۍ برخه اسلامي، فقهي احکامات دي، دوېمه برخه یې د قضا سره تعلق لري.

"د ملک د دننه کارونو د چلولو د پاره یو مذهب لازمي وي چې په هغې کښې کومې ستونزې او شرعي احکامات وي د هغې ذکر وي" [15]

## ج: تاریخ فرشته:

"دا کتاب د هندوستان په مشهور تاریخي کتابونو کښې دے. په دوه جلدونو اډانه لري چې په ډېر غوره طریقه سره د زرګونو په شمېره کښې چاپ شوے دے" [16]

## د: میزان الصرف:

"میزان الصرف د طالبانو د ګردانونو یو مهم کتاب دے چې په ریاستي دور کښې به چاپ کېدو او په طالبانو به مفت ویشلے کېدو" [17]

د ترجمه شوو کتابونو نه بېرته د ریاست ټولې فېصلې ، حکمنامې او رواج نامې سوچه په پښتو ژبه لیکل د پښتو ژبې د ودې د پاره یو لوئے ګام ؤ.

## ۲. رواج نامه سوات:

دا کتاب د ریاست سوات په ټولو حکمونو ، دفتري هلو ځلو ، د قضا د فېصلو او د یو شمېر سیمو د پاره جوړه کړې شوې یوه قانون پانګه ده.

"رواج نامہ ریاستی دور کی ایک اہم تاریخی اور قانونی دستاویز کی حیثیت رکھتی ہے۔ سوات کی ریاستی دور کے ان فرامین اور فیصلہ جات سے اس دور کی معاشرتی زندگی کے مخصوص طور طریقے اورہر شعبے میں موجود خوبیو ں اور خامیوں کا ایک منظم تصور سامنے اتاہے"[18]

ژباړه: رواج نامه د ریاستي دور یو اهم تاریخي او قانوني کتاب حېثیت لري. د ریاست سوات د دور فېصلې د هغه وخت سیمئیز ژوند طور طریقې او د ژوند د مختلف څانګو ښه او بد خویونو یو منظم تصور مونږ ته وړاندې کوي.

## ۳. د پښتو ژبې د املا تصحیح:

ریاست سوات د پښتو د املا د تصحیح د پاره وخت په وخت پاملرنه لرلې ده. په دې اړ کښې د ځینو لفظونو د املا په حقله یې حکمونه جاري کړي وو لکه:

"لاندې الفاظ چې څوک لیکي نو صحیح به یې لیکي غلط به یې نهٔ لیکي:

| صحیح | غلط |
|---|---|
| صاحب | صېب |
| معصوم | ماشوم"[19] |

## ۴. مخزن الاسلام:

د سوات په پښتو ادب کښې مخزن الاسلام په لرغونو او زړو کتابونو کښې دے. د دې کتاب ترتیب او تدوین د اخوند درویزه بابا اولاد په سوات کښې کړے دے. هم د دې له کبله د سوات په پښتو ادب د دې کتاب ډېر ژور اثرات دي.

"ځینو مؤرخینو او نقادانو خو ورته د سوات کتاب وئیلے دے"[20]

د مخزن په حقله د پښتو ژبې نابغه او ستر خوشحال وائي:

"که ژوندے شي افلاطون
سوات کښې اوسې سکون
هدايه کفايه دواړه
په پښتو کاندي موزون
دوي به وائي چې دا څه دي
مخزن به دے د اخون" [21]

## ۵. د زېږون ورځ نمانځل:

د سوات والي به د جون په پينځمه نېټه هر کال خپله د زېږون ورځ نمانځله چې په دغه ورځ به چراغان او خوشحالۍ کېدلې.

"يوه خاصه غونډه به کېدله چې صحافيانو، شاعرانو او اديبانو به پکښې په ګڼ شمېر سره ګډون کولو چې نور خلق ترېنه عبرت واخلي او د شاعرانو او اديبانو قدر او مقام نور هم اوچت شي" [22]

ددې نه دا خبره هم په ډاګه کېږي چې دغه غونډو به پښتو ژبې او ادب ته څومره پېرزونې وړاندې کولې هغه ځکه چې په دې غونډه کښې به سوچه په پښتو ژبه کښې شاعري، طنز او مزاح کېدلو او چا چې به ښۀ کلام وړاندې کړو هغۀ ته يې ډالۍ هم ورکولې.

## ۶. د تاج پوشۍ مشاعرې:

د دسمبر په دولسمه نېټه به کال په کال د تاج پوشۍ مشاعرې کېدلې چې د پښتونخواه د ټولو برخو نه شاعرانو او اديبانو به پکښې برخه اخستله.

"ددې مشاعرو سره سره به د سوات د سينډ "چې اوس پوليس لائن دے" په غاړه د نڅا پروګرامونه کېدل چې تکړه هنر مندو او سندر غاړو به پکښې سندرې او ګډاګانې کولې. ددې سندرغاړو، شاعرانو او اديبانو به ښۀ په خلاص مټ سره حوصله افزايي کولے شوه" [23]

## ۷. جهانزيبي مشاعرې:

د جون په پنځمه او د دسمبر په دولسمه نېټه چې به کومې مشاعرې اوشوې دغه به بيا په کتابي بڼه د جهانزيبي مشاعرو د سرخط لاندې چاپ کېدلې په دې مشاعرو کښې به د لرې لرې سيمو شاعرانو ګډون کولو. دوي ته به اعزازونه او انعامونه هم ميلاوېدل.

"دا جهازيبي مشاعرې به په دوه ډوله وې:

الف: طرحي

ب: غېر طرحي" [24]

## ۷. شاعرانو ته خطابونه:

د سوات باچا يو ادب پاله او ادب ذوقه شخصيت ؤ، په دغه دور کښې به د باچاهانو د مدحو وئېلو رواج ډېر په زور شور سره وو. کومو شاعرانو چې به د باچا په شان کښې پېرزونې وړاندې کړلې هغو له به د مياشتې د اجرت په توګه وظيفه مقرر کړلے شوه.

"داسې هم وئېلے کېږي چې سمندر خان سمندر ته د "ملک الشعراء" خطاب هم د سوات والي ورکړے ؤ" [25]

## ۸. سکولونه او مکتبونه پرانستل:

کله چې پښتو سرکاري ژبه وټاکلے شوه بيا هم د تدريس ژبه فارسي او اردو وه هغه ځکه چې د وخت علوم او پوهه په فارسۍ ژبه کښې ؤ او داسې علوم خپلې ژبې ته منتقل کول هم يو ګران عمل ؤ. ځکه د سوات والي پښتو ژبه د نورو سيالو ژبو سره يو ځاے کړه چې د وخت په پرمختګ کښې په شا پاتې نۀ شي هم دغه وجه وه چې کومو ځوانانو به تعليم حاصل کړو هغو به پښتو په روانه وئيلے او ليکلے شوه.

> "The medium of instruction in Educational Institution in the state, however, was not Pashto but was the one taught in British India. Nevertheless, all swatis educated in these institutions were fluenced in reading and writing Pukhtu" [26]

د ریاست سوات په ښوونځو کښې د تعلیم ژبه د برطانوي هند ژبه وه پښتو نۀ وه ولې بیا هم تعلیم یافته ځوانانو به پښتو ښۀ په ډاډ مټ وئیله او لیکلے شوه.

"د سکولونو یو جال پرانستل هم د تعلیم او ادب سره د مینې ثبوت دے. په دغه وخت کښې یو شمېر سکولونه چې پکښې دوه پنځوس پرائمري، څلور مډل او یو هائي سکول پرانستلے ؤ۔ "[27]

"ددې نه بېرته په کال ۱۹۵۲ء کښې د اعلی تعلیم د پاره یې یو غټ کالج "جهانزېب کالج" پرانسته هم اوکړه چې نصاب به یې د وخت رائج علوم او پښتو ژبه وه" [28]

## ۹. د پښتو نور کتابونه چاپ کول:

د پښتو ژبې سره د مینې له کبله د شاعرانو او ادیبانو دې اړخ ته پام سېوا شو چې هغو د سوات د والي په حقله د عقیدت پېرزونې اولیکلې. دغه لیکلے شوي کتابونه دا دي:

### الف: سوغات:

دا کتاب د قاضي عبدالحلیم اثر افغاني کتاب دے چې د والي سوات په حضور کښې وړاندې کړے شوے ؤ. په دې کتاب کښې هغه د سوات والي ته خراج تحسین وړاندې کړے دے.

"په دې کتاب کښې د ملک د نومړو شاعرانو او ادیبانو د کلامونو نمونې شتون لري" [29]

### ب: پت:

پت د سمندر خان سمندر لیکلے شوے کتاب دے. په دې کتاب کښې هغه د سوات والي سره د خپلې مینې اظهار کړے دے لکه:

"د فقیر او د بادشاه ترمینځه پت
دا په دواړو دے د لوے الله رحمت" [30]

## پ: درويش باچا:

دا کتاب اشرف دراني او رشيد علي دهقان په شريکه ليکلے دے. په دې کتاب کښې هم د والي په حقله عقيدت وړاندي کړے شوے دے.

"ددې د وېنا لاندې دوي وائي چې هر کال مونږ ته دا احساس کېږي چې مونږ لا هېڅ هم نۀ دي وئېلي او لا ډېر څه د ليکلو پاتي دي" [31]

## ج: د ايلم رسالې خصوصي نمبر:

"د سوات د جشن په موقع به د ايلم رسالې خصوصي نمبرې ويستلے کېدې چې به پکښې يو شمېر ادبي اصناف شامل وو" [32]

د دې ټولو خبرو نه دا خبره څرګنده شوه چې رياست سوات پښتو ژبې او ادب ته د مور پلار په شان مينه ورکړې ده. ادب ذوقه خلکو له يې لوړ مقام ورکړے دے، د پښتو ادب په پرمختګ کښې که مونږ د رياست سوات ذکر اونۀ کړو نو دا به د تحقيق په کار کښې يو غټه خلا پاتې شي هغه ځکه چې کله هم د يوې ژبې سره د رياست مرسته نۀ وي هغه کله هم د ترقۍ په بام نۀ شي ودرېدے. هم دغۀ وجه ده چې رياست سوات پښتو ژبه خپله او د اولس ژبه وګرځوله چې د راتلونکي دور ادب ته يې يو بنياد کېښودو.

# حوالې:

1. سلطان روم، ډاکټر، "رياست سوات"، ۱۹۱۵-۱۹۴۹ ترجمه، پروفيسر احمد فواد ، شعيب سنز مينگوره، ۲۰۱۳، مخ ۲۸-۲۹.

2. راہی، فضل ربی، "سوات سیاحوں کی جنت"، ندیم یونس پرنٹرز، لاہور، ۲۰۱۲، ص ۱۵۔

3. شاہین، محمد پرویش، وادی سوات مشرق کا سوئٹیزرلینڈ، مکتبہ جمال، تیسری منزل حسن مارکیٹ، اردو بازار، لاہور، ۲۰۰۹، ص ۲۸۔

4. سواتي، سرنزيب خان ، تاريخ رياست سوات، ذاهد بشير پرنټرز، لاهور، دوېم ځل، ۲۰۲۰، مخ ۹۷.

5. غازي، محمود احمد ، ډاکټر، پېش لفظ مشموله، کتاب العبرته، مصنف سيد عبدالجبار شاه ستهانوي، پورب اکادمي، اسلام اباد، ۲۰۱۱، مخ ۱۰.

6. کاکا خېل، ظفر، بهادر شاه، سيد ، "پښتانه د تاريخ په رڼا کښې"، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، ۱۹۶۵، مخ ۱۰۵۰.

7. شاهين، محمد پروېش، "د سوات ګلونه"، فاران پرېس مينګوره، ۱۹۸۸، مخ ۲۰۶-۲۱۱.

8. رحيم شاه رحيم، غټه خزانه، نديم يونس پرنټرز لاهور، وړمبې اشاعت، ۲۰۱۵، مخ ۱۵.

9. خان، محمد اصف ، تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات، پرېس ن م، ۱۹۵۸، مخ ۳۵۷.

10. **Sultan-i-Rome, Swat State (1915-1969), from genesis to merger, Oxford University Press, Karachi, 2nd Edition, 2009, P 223.**

11. عبدالقادر، مولانا، د فکريون، راغونډونکے عبدالرحمان شباب، يونيورسټي بک ايجنسي، پېښور، ۱۹۶۴/۱۹۹۷، مخ ۲۸.

12. خان، محمد اصف، تاريخ رياست سوات و سوانح حيات باني رياست سوات، پرېس ن م، ۱۹۵۸، مخ ۵۸-۵۷.

13. زيب سر، تاج محمد خان ، عروج افغان، جلد دوم، پرېس ن م، ۱۹۴۲، مخونه ۹-۱۰.

14. بيدپا، حکيم پنډت ، پنج تنتر، مترجم مياں عبدالغفور قاسمي، انوار سهېلي، حاجي حنيف اينډ سنز پرنټرز لاهور، دريم چاپ، ۲۰۱۳ ، مخونه ۸-۱۱.

15. بونېري، محمد ابراهيم ، بازار ګوئي تاليف فتاویٰ ودوديه، جلد اول، فېروز سنز پرېس پېښور صدر، س ن، ديباچه ی.

[16]. دينا خېل، محمد علي، ډاکټر،"د سوات پښتو ادب او کلتور"، الهام نبي ذاده کابل افغانستان، ۲۰۲۰، مخ ۲۹۹.

[17]. هم دغه اثر

**[18]. خان، غلام حبیب، مرتب، رواج نامہ سوات، ذاہد بشیر پرنٹرز لاہور، اشاعت دوم، ۲۰۲۱، ص ۳۶۔**

[19]. دينا خېل، ډاکټر محمد علي،"د سوات پښتو ادب او کلتور"، الهام نبي ذاده کابل افغانستان، ۲۰۲۰، مخ ۷۲.

[20]. هم دغه اثر، مخ ۱۱۲.

[21]. خټک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال، مقدمه سيد رسول رسا، يونيورستي بک ايجنسي پېښور، ۱۹۶۷/ ۲۰۰۹، مخ ۷۱۶.

[22]. نصر، نصرالله خان ، سوات، عظيم پبلشنګ هاوس پېښور، ۱۹۶۳، مخ ۴۴.

[23]. دهقان، رشيد علي، اشرف دراني، درويش باچا، منظور عام پرېس، پېښور، س ن، مخ ۴۸-۵۹.

[24]. صديقي، سيف الملوک "مرتب"، جهانزيبي مشاعره، ناشران عبدالحمد و محمد سعيد، سوات، ۱۹۵۴، مخونه ۴-۸.

[25]. حکيم زے، بدر الحکيم، ډاکټر، سره مخ په مخ مرکه، فروري ۲۳، ۲۰۲۵.

[26]. **Sultan-i-Rome, Swat State (1915-1969), from genesis to merger, Oxford University Press, Karachi, 2nd Edition, 2009, P 234.**

[27]. دينا خېل، محمد علي، ډاکټر،"د سوات پښتو ادب او کلتور"، الهام نبي ذاده کابل افغانستان، ۲۰۲۰، مخ ۳۰۲.

**[28]. دیناخیل، محمد علی، جہانزیب کالج کا ایلم رسالہ چند وضاحتیں، روزنامہ چاند سوات، ۱۰ نومبر ۲۰۱۳۔**

[29]. اثرافغاني، عبدالحليم، سوغات، دارالاشاعت باجوړ، س ن، مخونه ۴-۵.

[30]. سمندر، سمندر خان، پت، پېښور، ۱۹۶۱، مخ ۱.

[31]. دهقان، رشيد علي، اشرف دراني، درويش باچا، س ن، مخ ۴۸.

[32]. دينا خېل، محمد علي، ډاکټر،"د سوات پښتو ادب او کلتور"، الهام نبي ذاده کابل افغانستان، ۲۰۲۰، مخ ۳۲۲.

## References in Roman


1. Dr. Sultan-i-Rome, Riyasat-e- Swat 1915-1969, tarjuma Prof. Ahmad Fawad, Shoaib Sons Mingora, asha'at 2013, safha 28-29.
2. Rahi, Fazal Rabi, Swat Sayaho ki Jannat, Nadeem Younas Printers, Lahore, Ashaat 2012, Safha 15.
3. Shaheen, Muhammad Pervish, Wadi Swat Mashriq ka Switerzerland, Maktaba Jamal, Teesri Manzil, Hassan Market, Urdu Bazzar, Lahore, Ashaat 2009, Safha 28.
4. Swati, Saranzeb Khan, Tareekh Riyasati Swat, Zahid Basheer Printers, Lahore, Dwayam Zal, kal 2020, Makh 97.
5. Ghazi, Mahmood Ahmad Dr. , Pesh Lafz Mashmola, Kitab ul ebrat, Musanif Said Abdul Jabbar Shah Stanwi, Purab Akadmi, Islamabad, kal 2011, Makh 10.
6. Zafar Kaka Khel, Said Bahadar Shah, Pukhtana da Tareekh pa Ranra Ki, University Book Agency, Peshawar, kal 1965, makh 1050.
7. Rahim Shah Rahim, Da Swat Guluna, Faran Press Mingora, kal 1988, Makh 206-211.
8. Rahim Shah Rahim, Ghata Khazana, Nadeem Younas Printers, Lahore, Wrombay Ishaat, Kal 2015, Makh 15.
9. Khan, Muhammad Asif, Tareekh Riyasat Swat wa Sawanih Hayat Bani Riyasat Swat, Press Namaloom, Kal 1958, Makh 357.
10. Sultan-i-Rome, Swat State (1915-1969), from genesis to merger, Oxford University Press, Karachi, 2nd Edition, 2009, P 223.
11. Abdul Qadir, Maulana, Da Fikar Yoon, Raghwandawonkay Abdur Rahman Shabab, University Book Agency, Peshawar, 1964-1997, Makh 28.
12. Khan, Muhammad Asif, Tareekh Riyasat Swat wa Sawanih Hayat Bani Riyasat Swat, Press Namaloom, Kal 1958, Makh 57-58.
13. Zeb Sar, Taj Muhammad Khan, Urooj Afghan, Jild Doon, Press Namaloom, Kal 1942, Makhona 9-10.
14. Bedpa, Hakeem Pandat, Panj Tantir, Mutarjam Mian Abdul Ghafoor Qasmi, Anwar e Suhaili, Haji Haneef and Sons Printer, Lahore, Dwayam Chaap, Kal 2013, Makhona 8-11.
15. Buneeri, Muhammad Ibrahim, Bazar Goye, Taleef Fatawa Wadoodia, Jild Awal, Feroz Sons, Press Peshawar Sadar, Kal Namaloom, Deebacha ye.
16. Dina Khel, Muhammad Ali Dr. , Da Swat Pukhto Adab aw Kaltoor, Ilham Nabi Zada Kabal Afghanistan, Kal 2020, Makh 299.
17. Hum Dagha Asar.
18. Khan, Ghulam Habib, Muratab, Riwaj Nama Swat, Zahid Basheer Printers, Lahore, Ishaat Doom, Kal 2021, Makh 36.

19. Dina Khel, Muhammad Ali, Dr., Da Swat Pukhto Adab aw Kaltoor, Ilham Nabi Zada Kabal Afghanistan, Kal 2020, Makh 72.

20. Hum Dagha Asar, Makh 211.

21. Khattak, Khushal Khan, Armaghan-e- Khushal, Muqadma Said Rasool Rasa, University Book Agency, Pekhawar, 1967-2009, Makh 716.

22. Nasar, Nasrullah, Swat, Azeem Publishing House Pekhawar, 1963, Makh 44.

23. Dehqaan, Rashid Ali, Ashraf Durani, Darweesh Bacha, Manzoor Aaam Press, Pekhawar, San Namaloom, Makh 48.

24. Siddiqi, Saiful Malook Muratab Jahanzeebi Mushaeera, Nasheeran Abdul Hamad wa Muhammad Saeed, Swat, Kal 1954, Makona 6-7.

25. Hakeemzay, Badrul Hakeem, Dr., sara Makh pa Makh Maarka, February 23, 2025.

26. Sultan-i-Rome, Swat State (1915-1969), from genesis to merger, Oxford University Press, Karachi, 2nd Edition, 2009, P 234.

27. Dina Khel, Muhammad Ali, Dr., Da Swat Pukhto Adab aw Kaltoor, Ilham Nabi Zada Kabal Afghanistan, Kal 2020, Makh 302.

28. Deena Khel, Muhammad Ali, Jehanzeb College Ka elum Risala Chand Wazahatay, Rooznama Chand, Swat, 10 Novermber, 2013.

29. Asar Afghani, Abdul Haleem, Soghat, Darul Ishaat Bajawar, San Namaloom, Makhoona 5-6.

30. Samandar Khan Samandar, Pat, Pehawar, Kal 1961, Makh 1.

31. Dehqan, Rashid Ali, Ashraf Durani, Darweesh Bacha, San Namaloom, Makh 48.

32. Dina Khel, Muhammad Ali, Dr., Da Swat Pukhto Adab aw Kaltoor, Ilham Nabi Zada Kabal Afghanistan, Kal 2020, Makh 322.